**سعودي مېرمنې د رېښتينې آزادۍ لپاره راشده خلافت ته اړتيا لري**



**خبر:**

په دې وروستيو کې د سعودي عربستان وليعهد محمد بن سلمان له سي بي اېس (CBS) امريکايي ټلويزوني شبکې سره مرکه وکړه. نوموړي له امريکايي ټلويزوني شبکې سره په لمړۍ مرکه کې پر ډېرو اقتصادي مسايلو او پراخو ټولنيزو اصلاحاتو بحث وکړ. همداراز، هغه د سعودي مېرمنو د آزادۍ د پلان په اړه خبرې اترې وکړې، چې د نارينه‌و په څېر به دوی ته مساوي حقونه ورکوي، لکه: د سوداګريزو چارو پر مخ وړل، د موټر چلونې حق، په پوځ، کنسرټونو او سپورټي لوبو کې ګډون او داسې نور.

ده زياته کړه، چې ښځې کولای شي د نارينه‌و په څېر شريفې او له عزته ډکې جامې واغوندي او دا پرېکړه نوره په ښځو پورې اړه لري، چې څه ډول د خپلې خوښې وړ جامې په تن کوي. هغه اندېښنه ښودلې، چې يوازې ۲۲ سلنه سعودي مېرمنې تر کور دباندې کار کوي او دغه راز يې ښځې نورې هم وهڅولې، چې د هيواد په کاري ځواک کې برخه واخلي. ده څرګنده کړه، چې سعودي مېرمنې له خپلو ټولو هغو حقونو چې اسلام ورکړي، نه دي برخمنې شوي. په داسې حال کې، چې دوی اوږده لاره وهلې او لا هم لږ لار پاتې، چې سعودي مېرمنې خپلو حقونو ته په بشپړه توګه لاس رسی ومومي.

**تبصره:**

نړۍ او په ځانګړې توګه اسلامي امت ته جوته شوې، چې په سعودي عربستان کې له فساد سره د مبارزې، ټولنيزو اصلاحاتو او د مېرمنو د آزادۍ په نامه څه روان دي. او دا هم له نړۍ څخه نه ده پټه، چې له لسيزو راهيسې د سعودي عربستان او امريکايي دولت تر منځ اړيکه د غلام او بادار په څېر ده. اوسمهال د سعودي حاکم رژيم د

۸۲ کلن پاچا سلمان په مشرۍ او د ده زورواکه زوی محمد بن سلمان په دې لټه کې دي، چې د لسیزو زاړه بادار ته ځان وفادار ثابت کړي.

که څه هم زیاتره سعودي مېرمنو د محمد بن سلمان له لورې مېرمنو ته د «آزادۍ» له ورکولو شوې نظریې څخه هر کلی کړی او د یو داسې هیواد په هیله دي، چې دوی به پکې له هر راز تاوتریخوالي څخه وژغورل شي او خپل ټول حقونه او آزادۍ به تر لاسه کړي، خو اصل د دوی د تصور او خیالي خوب پر خلاف دی. ځیني دلایل په لاندې ډول دي:

۱- د ښځو د آزادۍ ریښتینې مانا دا نه ده چې دوی باید د موټر چلولو حق تر لاسه کړي، یا د نارینه‌و په څېر سوداګرۍ ته مخه کړي او یا د کانسرټ لیدلو لپاره تالار ته او د سپورټي لوبو ننداره لپاره لوبغالو ته لاړې شي. که حقیقت دا وي، نو غربي مېرمنې باید په نړۍ کې تر ټولو خوشحاله مېرمنې وای او له هر راز تاوتریخوالي او ځورونو څخه به خوندي وای. د ګالپ (Gallup) د نوي راپور پر بنسټ، په امریکا کې په هرو دریو مېرمنو کې یوه یې په دوامداره توګه له جنسي ځورونې څخه په وېره کې ده. د ملګرو ملتونو د راپور پر بنسټ، په ۷۷ هیوادونو کې سویډن، برتانیا، بوتسوانا او استرالیا هغه هیوادونه دي، چې په اړه یې تر ټولو زیات د جنسي تاوتریخوالي راپورونه ورکړل شوي. په ځانګړې توګه، په امریکا کې د جنسي تېریو کچه تر ټولو لوړه ښودل شوې. له دې څخه جوتېږي، چې څه ډول په لوېدیځ کې د «آزادۍ» مفکورې د مېرمنو ژوند له ګواښ سره مخ کړی، چې مېرمن په کې د یو جنسي توکي په څېر ارزښت لري او د نارینه‌و د نا مشروع غوښتنو پوره کولو لپاره ترې ګټه اخستل کېږي.

۲- د معتدل(منځلارې) اسلام تر نامه لاندې محمد بن سلمان د خپل بادار په غوښتنه هیواد د سیکولر کېدو لوري ته بیایي. په تېر کې د دې هیواد مزدورو حکامو یو په بل پسې د وهابیت مفکوره پلي کړې او دغه وهابیت د برتانیې له لورې د اسلام یو تحریف شوی ډول دی، چې مېرمنې یې د اسلام تر نامه لاندې له تاوتریخوالي او ځورونې سره مخ کړې وې. اوس محمد بن سلمان د هیواد د سیکولر کولو له لارې د اسلام د هرې نښې له منځه وړلو په هڅه کې دی. د آزادۍ او حریت تر سرلیک لاندې سعودي مېرمنې د تاوتریخوالي او ځورونو له نویو ډولونو سره مخ کېدونکې دي. له شکه پرته په نږدې راتلونکې کې به دغه دروغجنه آزادي د مسلمانو مېرمنو درنښت له منځه یوسي او دوی به د ګڼ-ملتي کمپنیو لپاره پر جنسي توکو واړوي.

۳- که څه هم محمد بن سلمان منلې چې اسلام د ښځو لپاره حقونه ډاډمن کړي، خو سعودي مېرمنې باید وپوهېږي چې سیکولر سعودي عرب او ګوډاګۍ نظام یې؛ چا چې اسلام په لمړي سر کې تر پښو لاندې کړی هېڅکله هم مېرمنو ته د حقونو ورکولو په موخه شرعي قانون نه پلی کوي.

هره مسلمانه مېرمن، چې د اسلام په وياړلي تاريخ خبره وي، په دې پوهېږي، چې د اسلام د واکمنۍ پر مهال مسلمانې مېرمنې په سياست کې د ګډون، د سوداګريزو چارو په تنظيم، په ټولنيزو فعاليتونو او په علمي برخه کې له ستورو پېژندنې نيولې تر طبابت پورې د برياليتوب لوړو پوړنو ته رسېدلې وې. تر دې ټولو مهمه دا ده، چې د يو بشر په توګه دوی د غربي مېرمنو د آزادۍ په پرتله له ځانګړي درنښت او خونديتوب څخه برخمنې وې. د اسلامي تاريخ په اوږدو کې شرعي قانون د مسلمانو مېرمنو له حقونو څخه د يوې لور، مېرمنې او مور په توګه دفاع کړې. په خلافت دولت کې دوی له ځانګړي درنښت څخه برخمنې دي او دغه دولت په هر قيمت د دوی له عزت څخه دفاع ته تيار دی. پر همدې بنسټ، د سعودي مېرمنو د ريښتنې آزادۍ او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د اصحابو د لاروۍ لپاره بايد سعودي مېرمنې د رښتيني اسلامي نظام د بيا راتګ لپاره د ثاني راشده خلافت تر بيرغ لاندې خپلو هڅو ته دوام ورکړي، د آزادۍ او خپلواکۍ نورې ټولې حللارې بايد څنډې ته ووهي.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**ليکواله:فهميده بنت ودود**

**ژباړن: عبدالله لطفي**

**۱۴۳۹هـق، د رجب ۷مه**

**۲۰۱۸م، د مارچ ۲۵مه**